# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۰/ شعبان المعظم /۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۱۲/ حوت /۱۴۰۱هـ، ش**

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابهء کرامو مقام او مرتبه

الحمد لله رب العالمين، مالك يوم الدين، إله الأولين والآخرين، الملك الحق المبين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، من بعثه الله رحمة للعالمين، وهداية للخلق أجمعين، عليه وعلى آله الطيبين، وصحابته الأكرمين أكملَ الناس عقولاً، وأغزرهم علماً، وأشجعهم قلوباً، وأحسنهم فهماً، جاهدوا في الله حق جهاده، وسلم تسليما كثيرا ، أما بعد: فقد قال الله سبحانه وتعالى: {مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْأِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً} الفتح: (۲۹)

الله جل جلاله پر بشريت احسان وکړ چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم يې د آخري پيغمبر په توګه ورته راوليږه او رسول الله صلی الله عليه وسلم خلک د توحيد روښنايې ته را بلل  او هغوی ته يې د شرک او جهالت له تاريکيو څخه نجات ورکړ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په څنګ کې داسې خلک وروزل شول چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته به د رسالت دروند بار به خلکو ته رسوي. دوی غوره خلک دي چې په صحابه کرامو ياديږي، پرته له شک څخه د علم او عمل له اړخه دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بهترين او غوره خلک دي؛ الله تعالی صحابه کرام د قرآن کريم د نشرولو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرتوب لپاره انتخاب کړي وو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام د ژوند په ټولو چارو کې په سمه لار باندې وو، الله تعالی دوی په غوره ايمان، سمه عقيده، درسته وينا، نيک عملونو او په غوره اخلاقو ياد کړي دي او دصحابه کرامو څخه يې خپله رضامندي ښکاره کړی او دوی ته يې د جنت او دجنت د نعمتونو وعده ورکړی ده.

د اهل السنت والجماعت دا عقيده ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته په ټولو انسانانو کې غوره خلک او د لوړې درجې او مرتبې څښتنان د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام دي.

صحابه کرام هغه څوک دي چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم يې ايمان راوړ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم يې کلکه پيروي او اتباع وکړه او د  نبي عليه السلام هر حکم ته يې لبيک وويل او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې هجرت

وکړ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې مرسته وکړه او خپل ځانونه او مالونه یې د اسلام په لار کې نذرانه کړ او دکفارو په مقابل کې یې داسلام مبارک لپاره خپلې سینې سپر کړلی، دا سلام د مقدس دین څخه ددفاع او د دعوت په لار کې یې نه ستړی کیدونکې هلې ځلې وکړی، د صحابه کرامو د زحمتونو په نتیجه کې داسلام مقدس دین د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسیده.

الله تعالی صحابه کرام د قرآن کریم د نزول شاهدان وګرځول، همغه ؤ چې قرآن کریم یې زده کړ، دقرآن کریم په هدایاتو یې ځانونه پوهه کړل اوبیایې ترهرچا لومړی د الله تعالی او دنبي علیه السلام هدایات او لارښوونې یې په ځان عملي کړی او بیا یې شرعي لارښوونې نورو ته ورسولی.

صحابه کرامو فضیلت ددې امله هم دی چې هغوی نبي علیه السلام په خپلو سترګو لیدلی دی او دین یې بلا واسطه د نبي علیه السلام څخه زده کړی دی، دوی د پیغمبرعلیه السلام سره په حضر کې او سفرکې ملګري ؤ او لیدل یې چې د پیغمبر علیه السلام عادت څرنګه دی او دهغه عبادت څرنګه دی، دهغه څخه یې دیني احکام په نظري او عملي توګه زده کړل اوکه چیرې به دوی خطا شول نبي علیه السلام به دوی خپلې خطا ته متوجه کول او په څه به چې پوهه نشول د هغې پوښتنه به یې دوحی له څښتن څخه کوله.

صحابه کرام د نبوي مدرسې لومړني متعهد شاګردان ؤ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس روزل شوي علماء او مجتهدین ؤ ، صحابه کرام د نبوي مقدسې او سپیڅلې مدرسې فارغان دي چې په علم او عمل سره سمبال ؤ.

همدا صحابه کرام وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت یې حفظ کړل او هغه یې د یو نسل څخه بل نسل ته انتقال کړل، صحابه کرام وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم آحادیث او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاکو سنتو په انتقال کې یې لوی او مهم رول لوبولی دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو یوه ځانګړتیا داده چې د صحابه وو د عدالت څخه پوښتنه نه کیږي یعنې ټول صحابه کرام عدول(عادلان) ؤ، الله تعالی د صحابه کرامو تزکیه او صفت په مختلفو آیتونو کې کړی دی؛ چې د هغو له جملې څخه ځینې یې په لاندې ډول دي.

## د صحابه کرامو مقام او مرتبه په قرآن کریم کې:

الله تعالی مونږ ته د صحابه کرامو مقام او مرتبه را په ګوته کوي او فرمایي:{كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ} آل عمران:(۱۱۰)

ترجمه:- یی تاسې (ای صحابه وو) خیر ( بهتر دهر هغه) امت چې ایستلی شوی دي لپاره دخلکو.

د مفسرینو په یو قول سره ددې غوره امت څخه صحابه کرام مراد دي.

امام قرطبی ددې آیت لاندې لیکي: (وإن من صحب النبي صلى الله عليه وسلم ورآه ولو مرة في عمره أفضل ممن يأتي بعده ، وإن فضيلة الصحبة لا يعدلها عمل). الجامع لأحكام القرآن

چاچې د نبي علیه السلام سره صحبت کړي وي او هغه یې لیدلی وي ولو که په ټول عمر کې یوځل هم وي، هغه بهتره دی دهغه چا څخه چې دهغه څخه وروسته راځي او دنبي علیه السلام د صحبت فضیلت سره هیڅ عمل نه پرتله کیږي.

هغه خلک هم صحابه کرام ؤ چې الله تعالی خپله رضامندي د هغوی شامل حال گرځولی ده:{وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ}التوبة:(١٠٠)

ترجمه:- او له مهاجرینو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني ( ایمان لرونکي) او هغه کسان چې په نیکۍ سره یې ددوی پیروي کړې ده الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي او هغه (الله) ددوی لپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې د هغو له لاندې ولې بهیږي چې دوی به په هغو کې تل تر تله وي، همدا ډېره لویه کامیابي ده.

{ لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحاً قَرِيباً} الفتح: (١٨)

ترجمه:- یقیناً الله له مؤمنانو نه راضي شو کله چې دوی له تاسره د ونې لاندې بیعت کولو ، پس ده ته هغه څه معلوم ؤ چې ددوی په زړونو کې ؤ بیا هغه پر دوی اطمینان نازل کړ او دوی ته یې په عوض کې نزدې بری ورکړ.

الله تعالی په دې آیتونو کې د نبي علیه السلام د اصحابو فضیلت بیان کړی دی او داچې الله ددوی څخه راضي دی او دوی دخپل رب نه راضي دي چې په دنیا او آخرت کې ددې څخه بله اوچته مرتبه نشته، ددې څخه به بله لوړه مرتبه چیرې وي چې تر قیامت پورې ددوی دا صفت لوستل کیږي.

حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې لیکي: بیشکه الله جل جلاله په دې آیت کې خبر ورکړی دی چې الله تعالی د لومړنیو مهاجرینو او انصارو څخه راضي دي . هلاکت دې وي هغه چا لپاره چې بیا هم دداسې خلکو(صحابه وو) سره بغض کوي او یا ورته کنځل کوي یا د بعضو سره بغض او یا ورته کنځل کوي په ځانګړي توګه د صحابه د سردار سره او دنبي علیه السلام افضل او بهتر صحابي سره بغض کوي یعني صدیق اکبر او لوی خلیفه ابوبکر صدیق بن ابی قحافه سره؟!.[تفسیر ابن کثیر]

همدا راز الله تعالی په یو بل مقام کې د صحابه کرامو داسې صفت کړی دی.{مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْأَنْجِيلِ}الفتح: (٢٩)

ترجمه:- محمد دالله رسول دی او هغه کسان چې دده سره دي په کفارانو باندې ډیر سخت دي په خپل مینځ کې ډیر مهرباني کوونکي دي ، ته به دوی وینې چې رکوع کوونکي سجده کوونکي دي له الله نه فضل او رضامندي غواړي ددوی (ددینداریۍ) نښې ددوی په مخونو کې دي د سجدو له اثر نه، دغه په تورات کې ددوی مثال دی او په انجیل کې ددوی مثال دی.

امام مالک رحمه الله فرمایې چې ماته دا خبره رارسیدلې ده چې هرکله نصاراو هغه صحابه کرام ولیدل چې شام یې فتح کړی ؤ دوی به ویل: قسم دی چې دا خو د عیسی علیه السلام د حواریونو څخه هم بهتره دي.

امام ابن کثیر وایې:ددې امت غوره او بهتره خلک د نبي علیه السلام صحابه کرام دي چې ددوی ذکر په پخوانیو کتابونو کې شوی دی.[تفسیر ابن کثیر]

د صحابه کرامو په هکله دا مبارک آیت نازل شوی دی چې د صحابه کرامو په مقام او مرتبه باندې دلالت کوي : {لَقَدْ تابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهاجِرِينَ وَالْأَنْصارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي ساعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ ما كادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَؤُفٌ رَحِيمٌ} التوبة: (١١٧)

ترجمه:- یقیناً یقیناً الله په مهربانۍ سره رجوع وکړه په خپل نبي او مهاجرو او انصارو باندې په هغو کسانو باندې چې د تنګۍ په وخت یې د هغه متابعت او ملګرتیا وکړه وروسته له دې چې قریب وه چې په هغو کې د یوې ډلې زړونه کاږه شي بیا هغه (الله) پر دوی باندې مهرباني وکړه یقیناً هغه پر دوی ډیر نرمي کوونکی بې حده مهربان دی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي چې صحابه کرام ریښتوني مؤمنان ؤ :{ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ} الانفال: (٧٤)

ترجمه:- او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او دالله په لاره کې یې جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی او مدد یې کړی دی همدغه کسان په حقه مؤمنان دي ددوی لپاره بښنه او ډیر د عزت رزق دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین ددې امله لوی مقام او مرتبه لري چې دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او امت ترمنځ ددین په نقل کې واسطه دي؛ چې دا فضیلت بل چاته حاصل نه دی.

همدا راز صحابه کرامو د نبي علیه السلام په ملګرتیا کې داسلام او مسلمانانو د سرلوړۍ لپاره جهادونه کړي دي، زیات فتوحات یې په برخه شوي دي او اسلامي دعوت یې د نړۍ هرکونج ته رسولی دی.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو مقام او مرتبه په آحادیثو کې:

په بې شمیره آحادیثو کې د صحابه کرامو مقام او مرتبه ذکر شوی ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپلو صحابه کرامو مقام او مرتبې په اړه داسې فرمایلي دي:(خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ) صحيح البخاري.

ترجمه:- زما په امت کې بهترینه پیړۍ زما پیړۍ ده ؛ بیا هغه کسان غوره ده چې دوی پسې راځي(تابعین) ، بیا هغه کسان غوره دي چې په دوی (تابعینو) پسې راځي.

ددې حدیث په بناء علمای کرام فرمایې چې په ټولو خلکو کې غوره خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام دي بیا تابعین غوره دي او بیا تبع تابعین غوره دي.

د صحابه کرامو عمل د نورو خلکو په عملونو غوره دی؛ ځکه چې د صحابه کرامو عملونه الله تعالی قبول کړي ؤ. نبي علیه السلام فرمایي: (لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِي. فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْل أُحُدٍ ذَهَباً، مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلاَ نَصِيفَه). صحيح البخاري

ترجمه:- زما صحابه ؤ ته کنځل مه کوئ ، که چیرې یو دستاسو نه د احد دغر په اندازه سره زر خیرات کړي وبه نه رسیږي د صحابه کرامو د مد یا نیم انفاق ته په ثواب کې.

دا ځکه چې د هغوی اعمال الله تعالی ته مقبول ؤ او زموږ عمل دوه حالته لري چې یا به قبول شي او یا به مسترد شي. د صحابه کرامو خیرات او صدقه ځکه بهتره وه چېډ هغوی خیرات او صدقې ته د اسلام په ابتداء کې زیات ضرورت او اړتیا وه او بله داچې د صحابه کرامو خیرات او صدقات د نبي علیه السلام د حمایت او نصرت لپاره ؤ چې دا فضیلت په اوسني وختونو

کې نه میسر کیږي؛ همدا علت ته په دې آیت کریمه ذکر شوی دی:{لا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلاً وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ} الحديد: (١٠)

ترجمه:- په تاسو کې هغه څوک نه دي برابر چاچې (دالله په لاره کې) له فتحې نه مخکې انفاق کړی دی او جنګ یې کړی دی ، دغه خلک ددرجې په لحاظ له هغو کسانو نه ډیر لوی دي چې له دغې( فتحې) نه یې وروسته (دالله په لاره کې) انفاق کړی وي او جنګ یی کړی وي او(په دوی کې)له هریو سره الله د ښیګڼې (جنت)وعده کړی ده او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوی ښه خبردار دی.

د صحابه کرامو سره محبت داسې دی لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت د الله تعالی سره محبت دی او د صحابه کرامو سره بغض او کینه ساتل داسې دی لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره -نعوذبالله- بغض او کینه ساتل او د رسول الله صلی الله سره بغض ساتل د الله تعالی سره دښمني کول دي او څوک چې د الله تعالی سره بغض وکړي هلاک به شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي، لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ، وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي، وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ، وَمَنْ آذَى اللَّهَ فَيُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ). مسند أحمد، سنن الترمذی

ترجمه:- ځان وساتئ زما د صحابه په باره کې زما څخه وروسته یې( دخپلو خبرو) هدف مه ګرځوئ، پس چاچې ددوی سره محبت وکړ زما په محبت سره یې ددوی سره محبت وکړ او چاچې ددوی سره بغض وکړ،

زما په بغض یې ددوی سره بغض وکړ او چاچې دوی ته تکلیف ورسولو په حقیقت کې ماته یې تکلیف ورسولو او چاچې ماته تکلیف ورسولو په حقیقت کې ده الله تعالی ته تکلیف ورسولو او چاچې الله تعالی ته تکلیف ورسولو زر دی چې وبه یې نیسي( په قهر او غضب سره).

کوم صحابي چې په کومه ځمکه کې وفات شي، هغه به ددغه ځای د خلکو لپاره د آخرت په ورځ کې روښنايي، لارښود او رهنما وي. په حدیث شریف کې راځي:(مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي يَمُوتُ بِأَرْضٍ إِلَّا بُعِثَ قَائِدًا وَنُورًا لَهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ). سنن الترمذي

ترجمه:- نه دی زما یو کس د صحابه وو څخه چې مړ شي په یوه ځمکه باندې ؛ مګر داچې راپورته به شي لارښود او روښنایې ددغه ځای خلکو لپاره د قیامت په ورځ.

په یو حدیث شریف کې نبي علیه السلام د صلحې حدیبیې زیات فضیلت ذکر کړی دی: (عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم، يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ: أَنْتُمْ خَيْرُ أَهْلِ الأَرْضِ) صحیح البخاري

ترجمه:- دجابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبې په ورځ وفرمایل: تاسو د ځمکې له خلکو څخه بهتره خلک یاست.

په یو بل روایت کې راځي:(لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ مِمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ). سنن الترمذي

ترجمه:- داخل به نشي اور ته هیڅوک د هغه چا څخه چې د حدیبیې ونې لاندې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړی دی.

صحابه کرام به جهنم د عذاب څخه خلاص وي. په حدیث شریف کې راځي: (عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي أَوْ رَأَى مَنْ رَآنِي). سنن الترمذي

ترجمه:- جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: اوبه نه رسیږي اور هغه چاته چې زه یې لیدلی یم او یایې هغه څوک لیدلي وي چې هغه زه لیدلی یم.

حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما به ویل:(لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، فَلَمُقَامُ أَحَدِهِمْ سَاعَةً ، خَيْرٌ مِنْ عَمَلِ أَحَدِكُمْ عُمُرَهُ). سنن ابن ماجة

ترجمه:- مه کنځئ د محمد صلی الله علیه وسلم اصحاب؛ ځکه چې د هغوی د یو کس یو ساعت دریدل غوره دي ستاسو د یو کس د ټول عمر عمل څخه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (يَأْتِي زَمَانَ يَغْزو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ، فَيُقَالُ: فِيكُمْ مَنْ صَحِبَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَيُقَالُ: نَعَمْ فَيُفْتَحَ عَلَيْهِ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ فَيُقَال: فِيكُمْ مَنْ صَحِبَ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَيُقَالُ: نَعَمْ فَيُفْتَحُ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ فَيُقَالُ: فِيكُمْ مَنْ صَحِبَ صَاحِبَ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَيقَالُ: نَعَم فَيُفْتَحُ ).صحيح البخاري

ترجمه:- داسې زمانه به راشي چې یو ډله خلک به غزا کوي ویل کیږي به : آیا په تاسو کې داسې څوک شته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګرتیا یې کړې وي؟؛ ورته به وویل شي هو! نو فتحه به ور په برخه شي، بیا به داسې زمانه راشي وبه ویل شي آیا په تاسو کې داسې څوک شته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو سره یې ملګرتیا کړې وی(تابعینو سره)؟ ورته به ویل شي هو! نو فتحه به یې په برخه شي، بیا به داسې زمانه راشي چې پوښتنه به وشي چې آیا په تاسو کې داسې څوک شته چې ملګرتیا یې کړې وي د رسول الله صلی الله علیه وسلم داصحابو د ملګرو سره (تابع التابعین ) ؟ ورته به وویل شي هو! بیا به ورته فتحه ور په په برخه شي.

په پورتني حدیث شریف کې د صحابه کرامو ، تابعینو او تبع تابعینو فضیلت او مقام ذکر شوی دی.

د یو بل حدیث شریف په یوه برخه کې راځي چې نبي علیه السلام صحابه وو ته وفر مایل: (فَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ- وَكَانَ كَثِيراً ما يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ- فَقَالَ النُّجُومُ أَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ فَإِذَا ذَهَبَتْ النُّجُومُ أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ وَأَنَا أَمَنَةٌ لِأَصْحَابِي فَإِذَا ذَهَبْتُ أنا أَتَى أَصْحَابِي مَا يُوعَدُونَ وَأَصْحَابِي أَمَنَةٌ لِأُمَّتِي فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ). صحيح مسلم

ترجمه:- نبي علیه السلام خپل سر مبارک آسمان ته پورته کړ او زیات وخت به نبي علیه السلام سرمبارک آسمان لورې ته پورته کولو-وه یې فرمایل: ستوري ساتونکي د آسمان دي کله چې ستوري له منځه لاړشي آسمان ته به هغه څه پیښ شي چې ورسره یې وعده شوی ده( یعنې آسمان به ټوټې ټوټې شي او له منځه به لاړشي) او زه ساتونکی د خپلو اصحابو یم کله چې زه لاړ شم رابه شي زما اصحابو ته هغه څه چې ورسره یې وعده شوی ده( یعنې فتنو کې به واقع شي) او زما اصحاب ساتونکي زما د امت دي کله چې زما اصحاب له منځه لاړشي زما امت ته به هغه څه پیښ شي چې ورسره یې وعده شوی ده. (شرونه به ورته پیښ شي).

د انصارو سره محبت د ایمان نښه ده. په حدیث شریف کې راځي:(آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ) صحيح البخاري ترجمه:د ایمان نښه د انصارو سره محبت دی او دنفاق علامه د انصارو سره بغض ساتل دي.

په یو بل لفظ کې راځي: (الْأَنْصَارُ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ فَمَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللهُ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللهُ) صحيح البخاري ترجمه: د انصارو سره مینه نه کوي؛ مګر مؤمن او دانصارو سره بغض نه کوي؛ مګر منافق پس څوک چې

دانصارو سره محبت کوي الله تعالی له ده سره محبت کوي او څوک چې دانصارو سره بغض کوي الله تعالی له ده سره بغض کوي.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: (مَنْ كَانَ مُسْتَنًّا فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ، أُولَئِكَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا خَيْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ، أَبَرَّهَا قُلُوبًا، وَأَعْمَقَهَا عِلْمًا، وَأَقَلَّهَا تَكَلُّفًا، قَوْمٌ اخْتَارَهُمُ اللهُ لِصُحْبَةِ نَبِيِّهِ صلی الله علیه وسلم وَنَقْلِ دِينِهِ، فَتَشَبَّهُوا بِأَخْلَاقِهِمْ وَطَرَائِقِهِمْ فَهُمْ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانُوا عَلَى الْهُدَى الْمُسْتَقِيم) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء

ترجمه:- څوک چې ستاسې څخه اقتداء کوونکی وي په چا پسې، پس اقتداء دې وکړي دهغه چا چې وفات شوي دي چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب او ملګري دي ، هغوی ددې امت غوره او بهتره خلک دي ، ډیر نیک وو زړونه د هغوی او ډیر ژور وو د علم له نګاه څخه او کم تکلف والا وو ، هغوی داسې قوم وو چې الله تعالی د خپل پیغمبر دملګرتیا لپاره انتخاب کړي وو او ددین دنقل لپاره الله تعالی انتخاب کړي وو ، دهغوی د اخلاقو او طریقو په شان خپل اخلاق او طریقې جوړې کړئ ، هغوی د محمد صلی الله علیه وسلم ملګري وو ، وو هغوی په سمه لاره باندې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام به د آخرت په ورځ د اویا امتونو کمی پوره کوي.په حدیث شریف کې راځي:(أَنْتُمْ تُتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ). المستدرك، سنن الترمذی

تاسو به تکمیلوی او پوره کوی اویا امتونو لره، چې تاسو به په دغو امتونو کې غوره او الله تعالی زیات عزت والا یاست.( یعنی که چیرې اویا امتونو کې کوم کمی رامنځ ته کیږي صحابه کرام به هغه کمي لره پوره کوي).

نبي علیه السلام په دنیا کې ځینو صحابه وو ته د جنت زیری ورکړی دی.په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبُو بَكْرٍ فِي الجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَعَلِيٌّ فِي الجَنَّةِ، وَطَلْحَةُ فِي الجَنَّةِ وَالزُّبَيْرُ فِي الجَنَّةِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الجَنَّةِ، وَسَعْدٌ فِي الجَنَّةِ، وَسَعِيدٌ فِي الجَنَّةِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الجَرَّاحِ فِي الجَنَّةِ). سنن الترمذي

ترجمه:- دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې نبي علیه السلام وفرمایل: ابو بکر رضي الله عنه به په جنت کې وي او عمر رضي الله عنه به په جنت کې وي او عثمان رضي الله عنه به په جنت کې وي او علي رضي الله عنه به په جنت کې وي او طلحه رضي الله عنه به په جنت کې وي او زبیر رضي الله عنه به په جنت کې وي او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه به په جنت کې وي او سعد رضي الله عنه به په جنت کې وي او سعید رضي الله عنه به په جنت کې وي او ابوعبیده بن جراح رضي الله عنه به په جنت کې وي.

په آحادیثو کې د خلفای راشدینو فضیلت بیان شوی دی . په یو حدیث شریف کې راځي:(أُوصِيكُمْ بِالسَّمْعِ وَالطَّاعَة ، فإنه مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيراً، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وسنة الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ مِنْ بَعْدِي ، تمَسَّكُوا بِهَا ، وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ).سنن الترمذی

ترجمه:- زه تاسو ته وصیت کوم د (امیر) د خبرې په اوریدلو او دهغه په طاعت باندې ؛ بیشکه څوک چې پاتې شي ستاسو څخه زما نه وروسته ژر دی چې وبه ویني زیات اختلاف، پر تاسو لازم دی عمل زما په سنتو او دخلفای راشدینو په سنتو ،

سمه لار موندونکو دي هغوی، وروسته زما نه ، تاسو کلک ونیسئ ددوی سنتو لره او تاسو چک ولګوئ په غاښونو سره پر هغې.( یعنې عمل ورباندې وکړئ).

ګرانو دوستانو! فکر وکړئ چي زمونږ دسیدالبشر خوږو اصحابو ته دا مقام څنګه حاصل شوی دی؟ دالله تعالی خوشحالي او رضامندي دوی ته څنګه ترلاسه شوی وه؟ تاسو د تاریخ کتابونه مطالعه کړئ چې صحابه کرامو داسلام دمقدس دین لپاره څومره قرباني ورکړي ده ؟ او دوی دهمدې مقدس دین اسلام دپاره کوم اندازه مشقتونه تکالیف برداشت کړي دي . زه به تاسو ته دنمونې په شکل دصحابه کرامو تکالیف او مشقتونه بیان کړم؛ ستاسو توجه غواړم. حضرت بلال رضي الله عنه پر ګرمو شګو باندې پرې ایستل شوی دی، حضرت خبیب رضي الله عنه پرانګارونو باندې پر ایستل شوی دی. داسلام اول خلیفه حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه دخاندان په پرېښودلو مجبور کړل شوی دی، حضرت عثمان ذي النورین په حجره کې بندي کړل شو، حضرت سمیه او حضرت یاسر رضی الله عنهما په ډېر ظلم اوستم سره په شهادت و رسول شول، حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه په زیاته اندازه د کفار و دلاسه ووهل شو، حضرت مصعب بن عمیررضی الله عنه بندي کړل شو، حضرت حذیفه سهمي رضي الله عنه په جوش کړل شویو اوبو کې واچول شو، خو د دوی مبارکو په عزمونو او اسلامي ژغ کي هیڅ فرق هم نه دی راغلی؛ لکه څنګه چې پر اسلام باندې مستقیم ؤ داسې تر اخره پورې ؤ، د دوی په ایمان کي فرق را تلل دامکان څخه دباندې خبره وه، بلکه په دې تکلیفونو سره به د دوی ایمانونه نور هم زیاتیدل او دا هم معلوم حقیقت وو چې د دوی په ایماني جذبه او هم ایماني قوت سره د کفر نوم اونښان تباه او د خاورو سره خاوري شو د کسرى او قیصر په بادشاهیو او ماڼیو کي شور اوغوغا جوړه شوه. دالله په ځمکه کې الهي نظام نافذ او برقرار شو، دهمدې صحابه کرامو په برکت سره په ټوله دنیا کې اسلامي نظام قائم او د عدالت لمر را پورته شو.

ګرانو اوریدونکو ! دجمله انبیاء علیهم السلام خلاصه همد اصحابه کرام دي، دسید البشر دمکې مکرمې دژوند خلاصه همدا صحابه کرام دي. دسید البشر د کردارونو خلاصه همدا صحابه کرام دي. دسید البشر داخلاقو خلاصه همدا صحابه کرام دي. دسید البشر د وینا او افعالو خلاصه همدا صحابه کرام دي.

### د حضرت ابو دجانه رضي الله عنه واقعه:

د صحابه کرامو په زړونو کې نبي علیه السلام په اړه دومره عظمت او محبت و چې د جنګ په دوران کې یې هم دوی ته شا ورګرځول نه غوښتل. په غزوه احد کې چې کله کافرانو په نبي علیه السلام باندې د هر طرف نه د غشو او تورو ګوزارونه کول شروع کړل، حضرت ابودجانه رضي الله عنه چې کله ولیدل چې په نبي علیه السلام باندې د هر طرف نه د غشو باران دی، نو ده اراده وکړه چې د پیغمبرعلیه السلام مخې ته ودریږي ، ددې د پاره چې دوی د غشو نه بچ شي. اوس که غشو طرف ته خپله سینه مخامخ کوي نو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم طرف ته یې شاکیږي ، او دا یې هم بې ادبي او د عشق خلاف ګڼله ، لهذا حضور صلی الله علیه وسلم طرف ته یې خپله سینه و ګرځوله او خپله شا یې د غشو طرف ته و ګرځوله؛ نو غشي به راتلل او د ده په ملا باندې به لګیدل .

### د حضرت ابوبکر رضی الله عند سختي او تکلیفونه زغمل:

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نارینه صحابه وو شمیراته دېرش شو؛ نو هغوی یو ځل را جمع شول او حضرت ابو بکر رضی الله عَنْهُ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیا بیا دا خبره کوله چې اوس به په ښکاره د اسلام دعوت ورکوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې اې ابو بکره! اوس مونږ لږ یو؛ لیکن حضرت ابو بکر رضی الله عَنْه به بیا بیا دا خبره کوله، چې د هغې له امله رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکاره د دعوت ورکولو اجازت ورکړو او مسلمانان د مسجد حرام په مختلفو برخو کې خواره شول او هر سړی به خپلې خپلې قبیلې ورتللو او دعوت به

يې ورکولو.حضرت ابو بکر رضی الله عنه خلکو کې د ددعوت لپاره ودریده په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ناست ؤ، حضرت ابو بکر رضی الله عنه په اسلام کې د ټولو نه اول بیان کوونکی دی چې هغه د الله جل جلاله او د هغه د رسول خواته په ښکاره ودرېده او علني يې خلک د اسلام لورې ته دعوت ورکړ، نو مشرکان په ابوبکر صديق رضي الله عنه او مسلمانانو باندې راټول شول او د مسجد حرام په مختلفو ځایونو کې مسلمانان ووهل شول او ابو بکر رضي الله عنه هم ووهل شو، عتبه بن ربیعه فاسق حضرت ابو بکر رضي الله عنه ته نژدې راغی او هغه يې په تلي دارو پڼو باندې ووهلو او د هغه مخ به يې په چپه پڼو باندې ووهلو او د حضرت ابو بکر په خېټه باندې د پاسه وګرځیدل. په دې وخت کې د حضرت ابو بکر رضی الله عنه قبیله (بنو تیم) په منډه راغلل او د حضرت ابو بکر رضی الله عنه نه يې مشرکان ایسار کړل او ابو بکر رضی الله عنه يې په یوه کپړه کې واچولو او خپل کورته یوړلو؛ د ابو بکر رض الله عنه قبيلې ته د ابو بکر په مړ کېدو کې هیڅ شک نه وو؛ لیکن هغه مړ نه شو ، تر دې وروسته د ابو بکر رضي الله عنه قبیله (بنو تیم) مسجد حرام ته واپس لاړل او بني تیم قبیلې وویل : په الله جل جلاله قسم! که چېرې ابوبکر رضی اللّه عنه مړ شو نو مونږ به د ده په بدله کې عتبه بن ربیعه وژنو، بیا د بنو تیم قبیله بېرته واپس ابو بکر رضی الله عنه ته ورغلل او د حضرت ابو بکر رضي اللَّهُ عَنْهُ پلار ابو قحافه او بنو تیم قبیلې له حضرت ابو بکر رضی الله عنه سره د خبرو کولو کوشش شروع کړو لیکن ابو بکر رضی الله عنه په همدغه ورځ په هوش را نغلو او خلکو ته يې هیڅ جواب ورنکړو؛ خو د ورځې په آخر کې ابو بکر رضی الله عنه په هوش را غی او خلکو سره يې خبرې وکړې ، دخبرو کولو سره سم ابوبکر صديق رضي الله عنه وویل: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څرنګه دی؟ په دې سره هغو خلکو ابو بکر رضي اللّه عنه ته بدرد وویل او ورځخه پاڅېدل او لاړل؛ خو دغو خلکو د ابو بکر رضی الله عنه مور (ام خیر) ته وویل چې د ابو بکر رضی اللهُ عَنْهُ د خوراک او څښاک خیال ساته او څه طعام او څښاک ورته ورکړه چې کله هغه خلک لاړل؛ نو د ابو بکر رضی اللّه عنه مور ابو بکر رضی الله عنه ته د ډوډۍ خوړلو بیا بیا وویل خوابوبکر رضی الله عنه به په هر ځل خپلې مور ته همدا خبره کوله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حالت څنګه دی؟. موریې وویل په الله جل جلاله قسم ! ماته ستاسو د حضرت محمد -صلی الله علیه وسلم هیڅ معلومات نشته. یعني حال يې نه دی راته معلوم! حضرت ابو بکر رضی اللَّهُ عَنْهُ مورته وویل: تاسو حضرت ام جمیل بنت الخطاب (د عمر رضي الله عنه خور چې په پټه يې اسلام راوړی ؤ) ته ورشئ او له هغې نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حال پوښتنه وکړئ او خبر يې راته راوړئ. د ابو بکر رضی الله عنه مور له دې وروسته ام جمیل بنت الخطاب ته ورغله او هغې ته يې وویل چې ابو بکر رضی الله عنه تاسو نه د محمد بن عبد الله په باره کې پوښتنه کوي. ام جمیل وویل زه نه ابو بکر رضی الله پیژنم او نه محمد بن عبد الله، خو زه تاسره ستاسو ځوی ته ورځم په دې کې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه مور وویل چې صحیح ده.لنډه دا چې حضرت ام جمیل د ابو بکر رضی اللهُ عَنْهُ له مور سره د ابو بکر رضي اللّه عنه کورته ورغله چې وه يې کتل حضرت ابو بکر رضی الله عنه په ځمکه باندې داسې پروت دی چې د هغه په وجود کې د کېناستلو قوت او طاقت هم نه ؤ او په سخت تکلیف کې ؤ؛ نو حضرت ام جمیل رضی الله عنها هغه ته نژدې ورغله او په زوره زوره يې وژړل او وه يې ویل: په الله جل جلاله قسم ! تا ته چې چا داسې تکلیف رسولی دی هغوی ډېر فاسقان او کافران خلک دي او زما دا یقین دی چې الله رب العزت به ستاسو انتقام ضرور له هغوی نه اخلي تاسو خفه کېږئ مه. حضرت ابو بکر رضی الله عنه وویل د رسول الله صلی الله علیه وسلم حالت څنګه دی؟

حضرت ام جمیل رضي اللّه عنها وویل: دا ستاسو موریې اوري، حضرت ابو بکر رضی اللّه عنه و ویل تا ته هیڅ خطر نشته؛ نو حضرت ام جمیل رضي اللّه عنها وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم روغ او جوړ دی. حضرت ابو بکر رضی الله عنه

پوښتنه وکړه چې رسول الله الله چېرته دی؟ هغې وویل: دار ارقم د حضرت ارقم رضي الله عنه په کور کې دی؛ حضرت ابو بکر رض اللهُ عَنْهُ وویل: په الله جل جلاله قسم؛ تر څو پورې چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوی نه یم؛ تر هغه پورې به نه څه وخورم او نه به څه وڅښم! حضرت ام الخیر او ام جمیل دواړه ایسارې شوې؛ تر دې چې کافي شپه تېره شوه او د خلکو تلل را تلل بند شو، بیا دې دواړو په خپله تکیه ورکولو حضرت ابو بکر رضی الله عنه بوتلو؛ تر دې پورې چې دري واړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول. رسول الله چې ابو بکر رضی الله عنه ته وکتل؛ نو پرې را ښکته شو او ښکل یې کړ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې عمل سره ټول ولاړ مسلمانان په ابو بکر رضی الله عنه باندې را ښکته شول، په دې حالت لیدلو سره د رسول الله زړه ډېر زیات نرم شو نو حضرت ابو بکر رضي الله عنه وویل اي د الله جل جلاله رسوله زما مور او پلار دې په تاسو قربان وي ما ته نور هیڅ تکلیف نشته لیکن دې فاسق زما مخ ته ډېر تکلیف رسولی دی او دا زما مورده چې د خپل ځوی سره ډېر ښه سلوک کوي او تاسو ډېر د برکت والا یاست، تاسو زما مور ته د الله جل جلا له طرف ته دعوت ورکړی او د الله جل جلاله نه د دې دپاره دعا و غواړئ! شاید چې الله رب العزت دا ستاسو په ذریعه د اور له عذاب څخه بچ کړي؛ نو رسول الله له هغې د پاره دعا او کړه او هغې ته یې د اسلام او د توحید دعوت ورکړو په دې سره د ابوبکر رضی الله عنه مور مسلمانه شوه.[السیرة الحلبیة]

## پر مونږ باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه وو حقوق:

صحابه کرام پر مونږ باندې حقوق لري چې ځیني یې په لاندې توگه دي:

۱- د صحابه کرامو په مقام او مرتبو باندې اعتراف کول او دصحابه کرامو سره مینه او محبت ساتل او په ژبه باندې د هغوی صفت کول او نورو خلکو ته یې د محبت توصیه کول.

۲- په دې عقیده ساتل چې صحابه کرام دنبي علیه السلام خلیفه گان دي د هغه د وفات څخه وروسته په علم او عمل کې، په دعوت کې، په امر او نهی کې، په جهاد کې، په نیکو اخلاقو کې .

۳-کله چې د هغوی نومونه یاد شي باید مونږورباندې ترضي ووایو یعنی رضي الله عنه او عنهم ووایو او هغوی ته استغفار وغواړو.

۴- د هغوی د مقاماتو او مرتبو هیله او آرزو لرل او بایدکوښښ وکړو چې د هغوی په نقش قدم باندې لاړشو.

۵- د صحابه کرامو د بغض،کینې، غیبت څخه ځانونه ساتل او هغوی ته دنامناسبه کلمات کارولو څخه ځانونه ساتل.

٦- په هغو خبرو کې زیات ننوتل نه دي په کار چې د صحابه کرامو په منځ کې واقع شوي دي(شخړی او اختلافات).

۷- د صحابه کرامو سیرت او دهغوی تاریخي واقعات لوستل او د ژوند په ټولو برخو کې د هغوی لاره تقیبول.